# شبکه زنان افغان


## گزارش نظارتی ربعوار در رابطه به
## تطبیق قانون محو خشونت علیه زنان
## در افغانستان

**۲۰۱۲**



# فهرست محتویات


خلاصه گزارش ........ ۳
هدف........ ۳
پیشینۀ خشونت علیه زنان در افغانستان........ ۳
تطبیق قانون محو خشونت علیه زنان........ ۴
ارتقای ظرفیت در رابطه به قانون محو خشونت علیه زنان........ ۴
ایجاد کمیسیون نظارت از تطبیق قانون محو خشونت علیه زنان........ ۵
نتایج نظارت از تطبیق قانون محو خشونت علیه زنان........ ۵
قضایای بررسی شده که به کمیسیون نظارت از تطبیق قانون محو خشونت علیه زنان
مواصلت نموده است........ ۶
قضیه اول:........ ۷



## خلاصه گزارش

برای نخستین بار قانون محو خشونت علیه زنان در افغانستان تصویب و آغاز از اگست سال ۲۰۰۹ در معرض تطبیق قرار گرفت. نخستین جنبه عملی آن انجام یک بررسی مدلل سه ساله در رابطه به تطبیق و تنفیذ قانون مذکور و توانایی آن در مبارزه علیه خشونت در برابر زنان در افغانستان میباشد.

شبکه زنان افغانستان طی این سند توجیهی استناد مینماید که چگونه اقدامات مختلف توسط مؤسسات داخلی و بین المللی با واکنش افغانستان در راستای تقویت مبارزه در برابر خشونت علیه زنان کمک نموده است. اقداماتی از قبیل ظرفیت سازی ارگانهای نافذ کننده قانون (پولیس، لوی سارنوالی، و قوهٔ قضائیه)، مساعدت های حقوقی با قربانیان خشوند و زنانیکه در معرض خطر قرار دارند، راه اندازی آگاهی عامه و تلاش ها برای ایجاد میکانیزم های مؤثر حکومتداری غرض مبارزه علیه خشونت و جلوگیری از ارتکاب بیشتر این پدیده عملی گردیده است. شبکه زنان افغان بمنظور ارزیابی موقف دولت افغانستان در باره قانون محو خشونت علیه زنان و توانایی و اشتیاق دولت در رابطه به تنفیذ و تطبیق این قانون یکسلسله سروی ها، مذاکرات، بحث های گروهی و میتود های مشاهداتی را در ولایت کابل راه اندازی نموده است. با استفاده از این ابتکار، شبکه زنان افغانستان یک سیستم نظارتی را غرض پیگیری پیشرفت مؤثریت و تطبیق قانون متذکره بطور سال به سال ایجاد نموده است.

## هدف

هدف این گزارش نظارتی ربعوار متوجه ساختن پالیسی سازان مربوطه حکومت افغانستان و جامعه جهانی که از آن حمایت مینماید، به وضعیت تطبیق قانون محو خشونت علیه زنان در افغانستان میباشد. بدین منظور، شبکه زنان افغان آنعده نهاد های مهم مربوطه حکومتی را که نقش مستمقیم در تطبیق این قانون دارد، تشخیص نموده است. بعد از تشخیص آن، یکسلسه برنامه های آموزشی در رابطه به توضیح قانون محو خشونت علیه زنان، اهمیت و تطبیق آن راه اندازی میگردد.

بمنظور حصول اطمینان از اینکه، پرسونل متذکره مسؤول بطور بهتر از این قانون استفاده نموده، با قربانیان زن برخورد بسزا نمایند، شبکه زنان افغان یک کمیسیون نظارتی را که از تطبیق این قانون نظارت خواهد نمود، ایجاد نموده است.

## پیشینهٔ خشونت علیه زنان در افغانستان

در این اواخر خشونت علیه زنان در افغانستان به یک عادت روزمره تبدیل گردیده است. انواع مختلف خشونت ها در برابر زنان وجود دارد، که عبارت اند از خشونت، لفظی، اقتصادی، جسمی، روحی، جنسی و حقوقی. بزرگترین عامل آن فقدان آگهی

در رابطه حقوق زنان و مردان از نقطه نظر شرعی، بیسوادی، ازدواج های اجباری و عدم تطبیق قانون بر مرتکبین جرایم مربوطه از جانب نهاد های حکومتی، عدم دسترسی زنان به نهاد های عدلی و حقوقی، رواج های منفی سنتی و فرهنگی از قبیل دادن دختران در بدل جرایم ارتکاب شده توسط یکی از اعضای مرد خانواده دختر و غیره میباشد.

عوامل متذکره خشونت علیه زنان یک تأثیر بزرگ بر زنان و وضعیت اجتماعی آنها دارد. در بیشتر این نوع قضایا، زنان دست به خودکشی زده، برای آنها باعث شکنجه نفسی، وضعیت جسمانی و روحی ضعیف و غیره میگردد. عوامل مذکور همچنان باعث میشود تا زنان به یکتعداد اعمال دیگر از قبیل به قتل رساندن شوهران شان و فراراز منزل دست بزنند.

قانون محو خشونت علیه زنان در سال ۲۰۰۴ طرح گردیده و طی تلاش های عمده وزارت امور زنان و مؤسسات فعال زنان، به ویژه شبکه زنان افغان از طریق یک فرمان ریاست جمهوری در سال ۲۰۰۹ تصویب گردید. برای نخستین بار افغانستان قانونی را ساخت که خشونت خانواده گی را منحیث یک موضوع اجتماعی میپندارد، نه یک موضوع خانواده گی.

## تطبیق قانون محو خشونت علیه زنان

بمنظور پی بردن به سطح تطبیق قانون محو خشونت علیه زنان، شبکه زنان افغان سروی یی را در یکتعداد ارگانهای مهم حکومتی انجام داد. هدف این سروی، تشخیص اینکه از قانون محو خشونت علیه زنان تا کدام اندازه بطور منظم برای کمک با زنان قربانی از خشونت استفاده میگردد. از انجام این سروی همچنان بخاطر پی بردن به نیازمندیهای پرسونل کلیدی بخاطر استفاده از قانون محو خشونت علیه زنان به یک شیوهٔ بهتر میباشد. از این سروی همچنان بخاطر دانستن تعداد چالش های مهمی که این نهاد ها حین تطبیق قانون محو خشونت علیه زنان با آن مواجه خواهند شد، استفاده بعمل آمد.

### سروی مذکور در نهاد های حکومتی ذیل انجام گردید:

- وزارت امور زنان
- دیپارتمنت های جندر، حقوق بشر و حقوق اطفال/وزارت امور داخله
- وزارت عدلیه
- ستره محکمه (دادگاه عالی)
- واحد ویژه محو خشونت علیه زنان در اداره لوی سارنوالی
- واحد های واکنش خانواده/وزارت امور داخله – شش ولسوالی ولایت کابل
- وکلا ایکه با مسایل خشونت علیه زنان سروکار دارند
- وزارت دفاع ملی/دیپارتمنت جندر

یافته های سروی مذکور به وضاحت نشان داد که تطبیق قانون محو خشونت علیه زنان بی اندازه ضعیف میباشد. دلیل آن عدم موجودیت فهم کافی در رابطه به ماده های ویژه این قانون غرض همکاری با زنان قربانی خشونت میباشد. یافته ها همچنان واضح ساخت که در افغانستان مردم معلومات بسیار اندک در موردقانون محو خشونت علیه زنان وجود دارد.

## ارتقای ظرفیت در رابطه به قانون محو خشونت علیه زنان

از آنعده پرسونل وزارتهای مهم که با قضایای خشونت علیه زنان مبارزه مینمایند و از قانون محو خشونت علیه زنان استفاده میکنند، و یا هم متعهد به استفاده از این قانون هستند، دعوت بعمل آمد تا در یک ورکشاپ آموزشی تخنیکی که توسط شبکه زنان افغان سازمان یافته بود، اشتراک نمایند. اشتراک کننده گان این ورکشاپ کارمندان نهاد های ذیل بودند:



- وزارت امور زنان
- دیپارتمنت های جندر، حقوق بشر و حقوق اطفال/وزارت امور داخله
- وزارت عدلیه
- ستره محکمه (دادگاه عالی)
- واحد ویژه محو خشونت علیه زنان در اداره لوی سارنوالی
- واحد های واکنش خانواده/وزارت امور داخله – شش ولسوالی ولایت کابل
- وکلا ایکه با مسایل خشونت علیه زنان سروکار دارند
- وزارت دفاع ملی/دیپارتمنت جندر

بعد از پایان برنامه آموزشی مذکور، یک سروی ارزیابی مؤثریت از جانب آموزگار شبکه زنان افغان انجام گردید. پاسخ اشتراک کننده گان به این ارزیابی توانایی آنها در رابطه به تمرکز مستقیم بر قانون محو خشونت علیه زنان، همچنان تغییر در روش آنان در رابطه به کمک با قربانیان زن و حمایت از آنها بود.

## ایجاد کمیسیون نظارت از تطبیق قانون محو خشونت علیه زنان

بعد از تکمیل مؤفقانه ورکشاپ آموزش تخنیکی محو خشونت علیه زنان، شبکه زنان افغان یک کمیسیون نظارت از تطبیق قانون محو خشونت علیه زنان را ایجاد نمود. اعضای این کمیسیون اعضای مؤسسه غیر دولتی شبکه زنان افغان که از شلتر های زنان نظارت مینمایند، آنعده اعضای شبکه زنان افغان که از قانون محو خشونت علیه زنان برای ارتقای آگاهی بسطح اجتماعات محل استفاده میکنند، و اعضای انفرادی شبکه زنان افغان که دارای سابقهٔ حقوقی میباشند، میباشد. کمیسیون مذکور جلسات خود را طور ماهوار بخاطر بحث روی خشونت علیه زنان، تطبیق قانون محو خشونت علیه زنان برگزار نموده، نتایج بررسی های نظارتی خویش را از ساحات کاری شان با یکدیگر شریک میسازند.

## نتایج نظارت از تطبیق قانون محو خشونت علیه زنان

**در جریان ربع اول، گزارش نظارتی تطبیق قانون محو خشونت علیه زنان مسایل ذیل را شناسایی نمود:**

۱. یکتعداد قضایای خشونت علیه زنان در وزارت امور زنان تحت بررسی قرار دارد. چهار قضیه تحت بررسی قرار داشته، و پنج قضیه خشونت علیه زنان از طریق وساطت غیر رسمی بین قربانیان و خانواده های شان حل و فصل گردیده است. طی مدت گزارشدهی، ملاحظه گردید که قضایای خشونت علیه زنان بطور درست در این وزارت مورد غور و بررسی قرار نمیگیرد. موضوع خشونت علیه زنان نقش وزارت امور زنان



را منحیث یک ارگان محافظ و حامی از قربانیان خشونت در سایر نهاد ها برازنده ساخته است. وزارت امور زنان همچنان قضایای خشونت علیه زنان را طور مستقیم ثبت و راجستر نمی نماید، از زنان قربانی خشونت در ارتقای آگاهی شان در رابطه به حقوق شان حمایت نموده، در صورت لزوم آنان را به محاکم راجع میسازد.

۲. در واحد ویژه محو خشونت علیه زنان در اداره لوی سارنوالی، معلوم گردید که یازده قضیهٔ خشونت علیه زنان طور غیر رسمی از طریق وساطت حل و فصل گردیده است. همچنان در این اداره دیده شد، که معلومات قضایای خشونت علیه زنان زیاد واضح نمیباشد. در واحد مذکور، زمانیکه زنان قربانی به ایشان مراجعه مینمایند، به آنها توصیه میشود تا وضعیت را درک نمایند، و یا هم از شیوه های وساطت غیر رسمی برای حل مشکلات ایشان استفاده میگردد. این امر بدون موجودیت یک تضمین قوی از جانب خانواد/شوهران زنان قربانی صورت گرفته، در آن امکان موجودیت خطربرای زنان قربانی وجود دارد.

۳. اداره حقوقی دفتر مرکزی کابل یک نهاد دیگری میباشد که لازم است در آن قضایای خشونت علیه زنان از طریق دادخواهی حقوقی ذریعه تطبیق قانون حل و فصل گردد، هرچند، مشاهده گردید که اکثریت قضایا از طریق شیوهٔ وساطت غیر رسمی حل گردیده است. این امر نتیجه عدم انجام تحقیقات لازم بوده، هیچ تضمینی وجود ندارد که همچو خشونت دوباره تکرار نخواهد شد، بسا اوقات توأم با خطراتی برای زنانیکه دوباره با خانواده های شان یکجا میشوند، نیز میباشد.

۴. در وزارت امور داخله/واحد های واکنش خانواده مشاهده گردید که بیشتر قضایا طور غیر رسمی با عدم موجودیت یک تضمین قوی حل میگردد. دلیل آن اینست که بیشتر افسران پولیس دانش کافی نداشته، و به آن سطح مسلکی نیستند که در مورد ماده های مهم قانون محو خشونت علیه زنان و تطبیق فهم و دانش داشته باشند.

۵. بطور کل در روند نظارت، مشاهده گردید که یک خلای بزرگ در رابطه به آگاهی و درک اینکه چگونه از قانون محو خشونت علیه زنان استفاده گردیده، این قانون بطور مؤثر در راستای کمکبا زنان قربانی از خشونت مورد استفاده قرارگیرد، وجود دارد.

# قضایای بررسی شده که به کمیسیون نظارت از تطبیق قانون محو خشونت علیه زنان مواصلت نموده است

در جریان این ربع، یکتعداد قضایا نیز به کمیسیون نظارت از تطبیق قانون محو خشونت علیه زنان مواصلت ورزیده است. قضایای مذکور نمونه عد- تطبیق قانون محو خشونت علیه زنان بوده، و یا هم عدم تأثیر برنامه آموزشی که توسط شبکه زنان افغان در رابطه به قانون محو خشونت علیه زنان به کارمندان ذیربط یکتعداد نهاد های مهمی که با محو خشونت علیه زنان سروکار دارند ارائه گردید، میباشد.

## قضیه اول:

بی بی گل یک قربانی زن است که هر لحظه زندگی خود را تحت خشونت شدید سپری نموده است. او از ولایت هلمند بوده و در آنجا زندگی میکند. قضیهٔ بی بی گل از سوی کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان راجع گردیده است. قضیهٔ بی بی گل یکی ازقضایای بدل میباشد، که پدرش موصوفه را که ۱۴ سال داشت به یک شخص ۴۵ ساله که اسمش امان الله بود به همسری داد، و در مقابل آن دختر ۲ ساله امان الله را به فرزندش گرفت. زمانیکه دختر دو ساله امان الله به سن ازدواج رسید، خانواده بی بی گل به امان الله مراجعه نمودند تا مراسم نامزدی اولاد های شانرا تجلیل نمایند. از آنجائیکه امان الله از پسر کاکای خانم اول خویش برای دادن دخترش ۴۰۰ هزار افغانی اخذ نموده بود، دخترش را وادار نمود تا از نکاح با برادر لعل بی بی در محضر سران قومی انکار نماید. در این حالت چندین تن قربانی میشوند. یک دختر ۱۴ ساله که وادار به عروسی با شخص ۴۵ ساله گردیده است، یک دختر ۲ ساله که به یک پسر ۱۸ ساله نامزد گردیده است.

بعد از ازدواج اجباری، بی بی گل وادار به گداگری روی جاده ها گردید، چون شوهرش و خانم اول شوهرش او را برای انجام اینکار بشدت لت و کوب مینمود. بعد از انکار دختر امان الله از ازدواج و در نتیجه خشونت شدید در برابر بی بی گل، موصوفه با والدینش به هلمند رفتند. شوهرش بالای موصوفه و خانواده اش عریضه نموده، ایشان را متهم ساخته است که نه تنها خانمش را اختطاف نموده اند، بلکه ۲۰۰ هزار کلدار پاکستانی را نیز از منزلش به سرقت برده اند. در حال حاضر بی بی گل و خانواده اش در یکی از مراکز امن (شلتر) زندگی میکنند، در حالیکه پدر بی بی گل در توقیف پولیس بسر میبرد.

بعد از استخدام وکیل مدافع، ثابت شد که بی بی گل از جانب کسی اختطاف نگردیده، بلکه به رضایت خود با خانواده اش رفته بود. همچنان ثابت گردید که مبلغ ۲۰۰ هزار کلدار پاکستانی مربوط به خانواده بی بی گل بود که میخواستند مراسم عروسی پسر شان و دختر اندر بی بی گل را به آن برگزار نمایند. از دختر اندر بی بی گل نیز خواسته شد تا به محکمه حاضرشده، اظهار دارد که چگونه پدرش موصوفه را وادار به انکار از ازدواج با برادر بی بی گل ساخت.

به اساس اگاهی قانون محو خشونت علیه زنان، برادر بی بیگل مجازات گردید، پدرش از توقیف آزاد گردید، و ازدواج دختر اندر و برادرش صورت گرفت. یکی از دلایل پیگیری و حل و فصل این قضیه نظارتی بود که توسط کمیسیون نظارت از تطبیق قانون محو خشونت شبکه زنان افغان بخاطر دریافت وضعیت تطبیق قانون متذکره توسط نهاد های ذیربط صورت گرفت.

# د افغان ښځو شبکه

## په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د تاو تريخوالي
## له منځه وړلو قانون د پلي کيدا په هکله
## دری میاشتینې څارنیز یا نظارتي راپور

۲۰۱۲



# د موضوعاتو لړلیک


د راپور لنډیز ........ ۱۰

موخه ........ ۱۰

په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي مخینه ........ ۱۰

د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي له منځه وړولو قانون پلی کیدا ........ ۱۱

د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي له منځه وړلو قانون په هکله د ظرفیت لوړول ........ ۱۱

د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي له منځه وړولو قانون له پلی کیدا څخه د څارنې کمیسیون رامنځته کول ........ ۱۲

د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالی له منځه وړولو قانون له پلي کیدا څخه د څارنې پایلي ........ ۱۲

هغه بررسی شوی قضیې چې د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي له منځه وړولو قانون له پلی کیدا څخه د څارنې کمیسیون ته رارسیدلي دي ........ ۱۳

لمړنی قضیه: ........ ۱۴

## د راپور لنډيز

په افغانستان کې د لمړۍ ځل لپاره د ښځو پر وړاندې د تاو تريخوالي له مينځه وړلو قانون تصويب شو او د ۲۰۰۹ کال د اګست په مياشت پلى شو. د دى قانون لمړنۍ عملى جنبه د ياد قانون د پلي کيدا، تنفيذ او په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د تاو تريخوالي په برخه کې د هغي د وړتيا په هکله د يوې دري کلنې بررسۍ تر سره کول وو.

د افغان ښځو شبکه د دى سند د استناد پر بنسټ ښيې، چې کورنيو او نړيوالو مؤسسو د افغانستان د دولت غبرګون پر وړاندې د ښځو سره د تاو تريخوالي پر وړاندې د مبارزې او ملاتړ په برخه کې، څه ډول مرسته کړيده. بيلابيل اقدامات لکه د قانون نافذولو ارګانونو (پوليسو، لوى څارنوالۍ، او قضايه قوى) ظرفيت جوړول، د تاو تريخوالي قربانيانو او هغو ميرمنو سره چې د خطر سره مخ دي حقوقي مرسته کول، د عامه پوهاوې تر سره کول او د حکومتولۍ لپاره د آغيزمنو ميکانيزمنو رامينځته کولو په برخه کې هلي ځلي، څو پر مټ يې د تاو تريخوالي سره مبارزه او له د دى پديدې څخه مخنيوې وشي ، عملي شوي دي. د افغان ښځو شبکې د ښځو پر وړاندې د تاو تريخوالي له مينځه وړلو قانون په هکله د افغانستان د دولت موقف او د دى قانون د تنفيذ او پلي کيدا په هکله د دولت وړتيا او اشتياق ارزونې په موخه يو لړ سروې ګانې، خبري اتري، ډله ييز بحثونه او مشاهداتي ميتودونه په کابل کې په لاره اچولې دي. د دى نوښت څخه په استفادي سره، د افغان ښځو شبکي کال په کال د ياد قانون د پرمختګ آغيزمنتيا او پلي کيدا څخه د څارنۍ په موخه يو څارنيز يا نظارتي سيستم، رامينځته کړى دى.

## موخه

د دى درى مياشتينې څارنيز يا نظارتي راپور موخه په هيواد کې د تاو تريخوالي له مينځه وړولو قانون د تطبيق وضعيت ته د افغانستان د حکومت اړونده پاليسي جوړونکو او نړيوالي ټولنۍ متوجه کول دي، کوم چې له ياد قانون څخه ملاتړ کوې. په همدې منظور، د افغان ښځو شبکي هغه شمير حکومتي بنسټونه او اداري چې د دى قانون په پلي کيدا کې مستقيم نقش او رول لري، تشخيص او په ګوته کړيدي. تمه ده چې د دغو بنسټونو له تشخيص او پيژندګلوۍ وروسته به د ښځو پر وړاندې د تاو تريخوالي له مينځه وړلو قانون د وضاحت، اهميت او پلي کيدا په برخه کې يو شمير روزنيز پروګرامونه په لاره واچول شي.

له دى څخه د ډاډ حاصلولو په موخه چې د اړونده بنسټونو او ادارو پرسونل له دى قانون څخه په ښه توګه ګټه پورته کړي او له قربانې ښځو سره تر ټولو ښه چالچلند وکړي، د افغان ښځو شبکي يو څارنيز کميسيون چې د دى قانون له پلي کيدا څخه به څارنه وکړي، تأسيس کړى دى.

## په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې د تاو تريخوالي مخينه

په دى وروستيو کې په افغانستان کې د ښځو پر وړاندې تاو تريخوالي په يوه ورځينې عادت تبديل شوى. د ښځو پر وړاندې د تاو تريخوالي بيلابيل ډولونه شتون لري، چې



عبارت دي له لفظي، اقتصادي، جسمي، روحي، جنسي او حقوقي تاو تریخوالي. د تاو تریخوالي تر ټول ستر عوامل د شریعت له نظره د ښځو او نارینه حقونو په هکله نه پوهاوی، نالوستیتوب، اجباري ودونه، د دولتي ادارو لخوا پر اړونده مرتکیبینو د قانون نه پلي کېدا، حقوقي او عدلي بنسټونو او ادارو ته د ښځو نه لاس رسی، سنتي او فرهنګی منفی رواجونه لکه د ارتکاب شویوو جرمونو په بدل کې د کورنی د یوه نارینه غړي لخوا د نجونو ورکړه، او داسي نور.

د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي یاد عوامل پر ښځو او د هغوی پر ټولنیز وضعیت، ستره آغیزه لري. په دا ډول اکثرو قضیوو کې، ښځي په ځان وژنه لاس پورې کوی، د هغوی د نفسي ربړوني او همدا راز د جسماني او روحی وضعیت د کمزوئ، لامل کیږي. سر بیره پر دي، یاد عوامل د دی لامل کیږي چي ښځي په یو شمیر نورو اعمالو لکه د مړنو په وژنه او له کوره په تېښتیدو، لاس پوري کړي.
د ښځو پر وړاندې تاو تریخوالي له مینځه وړلو قانون په ۲۰۰۴ کال کې طرح شو او د ښځو چارو وزارت او د ښځو فعالو مؤسسو په ځانګړي توګه د افغان ښځو شبکي د هلو ځلو په ترڅ کې د جمهوری ریاست لخوا د یو فرمان له مخي په ۲۰۰۹ کال کې تصویب شو. همدا وو چي افغانستان د لمړي ځل لپاره داسي یو قانون جوړ کړ چي کورنی تاوتریخوالي یوه ټولنیزه موضوع بولي، نه کورنی.

## د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي له مینځه وړلو قانون پلی کیدا

د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي له مینځه وړلو قانون د پلي کیدا په کچه پوهیدلو په منظور، د افغان ښځو شبکي په یو شمیر مهمو حکومتي ارګانونو کې، یوه سروې تر سره کړه. د دی سروې موخه دا وه تر څو تشخیص شي چي د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي له مینځه وړلو قانون څخه تر کومه بریده په منظمه توګه د قرباني ښځو سره د کمک او مرستي په برخه کې، ګټه اخیستل کیږي. همدا راز د دی سروې تر سره کول د کلیدی پرسونل په آړتیاوو پوهیدل وو، تر څو د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي له مینځه وړلو له قانون څخه په ښه توګه کار واخیستلای شي. سر بیره پر دی، له دی سروې څخه د هغو مهمو ننګونو په پوهیدلو کې چي آړونده بنسټونه ورسره د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي له مینځه وړلو قانون د پلي کیدا پر مهال، مخ کیږي، ګټه واخیستل شوه.

### یاده سروی په لاندینیوو حکومتي بنسټونو/ادارو کې تر سره شوه:

- د ښځو چارو وزارت
- د جندر ډیپارټمنټونه، بشري او ماشومانو حقونو کمیسیونونه/کورنیو چارو وزارت
- د عدلیي وزارت
- ستره محکمه
- په لویه څارنوالی کې د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي له مینځه وړلو ځانګړي واحد
- د کورنیو د غبرګون واحدونه/کورنیو چارو وزارت- د کابل ښیر ولسوالی
- هغه وکالت خوني چي د ښځو پر وړاندې تاو تریخوالي مسایلو سره سر او کار لري
- د ملی دفاع وزارت/د جندر ډیپارټمنټ

د یادي سروی موندنو په وضاحت سره وښودل چي د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي له مینځه وړلو قانون د پلي کیدا بهیر ډیر کمزوری دی. د دی کمزورتیا دلیل، د تاو تریخوالي قرباني شویوو ښځو سره د مرستي پر ځانګړو مادو نه پوهاوی دی. یادو موندنو دا هم واضیح او روښانه کړه چي په افغانستان کې خلک د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي له مینځه وړلو قانونه په هکله ډیر لږ معلومات لري.



## د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي له منځه وړلو قانون په هکله د ظرفیت لوړول

د یو شمیر مهمو وزارتونو هغو کارکوونکو ته چې د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي اړونده قضیو سره مبارزه کوې او د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي له مینځه وړولو له قانون څخه ګټه اخلي او یا د دی قانون څخه د ګټي اخیستني په برخه کې ژمن دي، بلنه ورکړل شوه، تر څو په یوه روزنیز ورکشاپ کې چې د افغان ښځو د شبکي لخوا په لاره اچول شوی وو، ګډون وکړي. د دی ورکشاپ ګډونوال له لاندې بنسټونو او ادارو څخه ول:

- د ښځو چارو وزارت
- د جندر ډیپارتمنټونه، بشري او ماشومانو حقونو کمیسیونونه/کورنیو چارو وزارت
- د عدلیې وزارت
- ستره محکمه
- په لویه څارنوالی کې د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي له مینځه وړلو ځانګړي واحد
- د کورنیو د غبرګون واحدونه/کورنیو چارو وزارت- د کابل ښېر ولسوالی
- هغه وکالت خوني چې د ښځو پر وړاندې تاو تریخوالي مسایلو سره سر او کار لري
- د ملی دفاع وزارت/د جندر ډیپارتمنټ

د یاد روزنیز پروګرام له پای وروسته، د آغیزمنتیا ارزوني یوه سروې د افغان ښځو شبکي د یوه استاد لخوا تر سره شوه. دی ارزوني ته د ګډونوالو ځواب د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي له مینځه وړلو پر قانون مستقیم تمرکز، او همدا راز ښځینه قربانیانو سره د مرستي او ملاتړ په برخه کې د هغوې د روش او چالچلند پر بدلون وو.

## د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي له مینځه وړولو قانون له پلی کیدا څخه د څارنې کمیسیون رامینځته کول

د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي له مینځه وړلو روزنیز ورکشاپ له مؤفقانه پای ته رسیدو وروسته، د افغان ښځو شبکي د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي له مینځه وړلو د پلی کیدا څخه د څارني یو کمیسیون رامینځته کړ. د دی کمیسیون غړي د نادولتي مؤسسي غړي دي (د افغان ښځو شبکه)، کوم چې د ښځو سرپناوو څخه څارنه کوې، د افغان شبکي هغه غړي چې د سیمه ییزو ټولنو په سطحه د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالی له مینځه وړلو څخه ملاتړ کوې او همدا راز د افغان ښځو شبکه چې د حقوقی برخي شالید لري. یاد کمیسیون په میاشتینی توګه خپلي غونډي د ښځو پر وړاندې تاو تریخوالي، د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي له مینځه وړلو قانون پلی کولو په برخه کې په لاره واچولي، او د کار له سیمی څخه د څارنیزو بررسیوو پایلي له یو بل سره شریکوی.



## د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالی له مینځه وړولو قانون له پلي کیدا څخه د څارنۍ پایلي

**په لمړنیوو دریوو میاشتو کې، د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي له مینځه وړلو قانون د پلي کیدا څارنیز راپور لاندې مسایل په نښه کړل:**

١. د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي یو شمیر قضیې د ښځو چارو په وزارت کې د غور او بررسی لاندې دي. دمګړۍ څلور قضیې تر بررسی لاندې دي او د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي قضیې د نارسمي منځګړیتوب له لاري د قربانیانو او د هغوې د کورنیو تر مینځ حل او فصل شویدي. د راپور ورکونی تر وخته، وموندل شو، چې د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي قضیې په دی وزارت کې په سمه توګه د غور او بررسی لاندې نه نیول کیږي. د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي موضوع د ښځو چارو وزارت نقش او رول په ټولو بنسټونو او ادارو کې د تاو تریخوالي د قربانیانو څخه د یو محافظ یا ساتونکی ارګان او ملاتړي په توګه، څرګند کړی دی. همدا راز د ښځو چارو وزارت د ښځو چارو د ښځو پ روړاندې د تاو تریخوالي قضیې په مستقیمه توګه ثبت او راجستر کوې، او د تاو تریخوالي قرباني شویوو ښځو سره د هغوي د حقونو څخه د پوهاوې د لوړوالي په برخه کې ملاتړ کوې، او د اړتیا په صورت کې هغوي اړونده محکمو ته راجعه کوې.

٢. په لویه څارنوالی کې د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي له مینځه وړلو ځانګړي واحد کې معلومه شوه چې د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي یوولسس بیلابیلي قضیې په نارسمي توګه د منځګړیتوب له لاري حل او فصل شویدي. همدا راز په دی واحد یا اداره کې ولیدل شو، چې د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي قضیوو اړونده معلومات څرنګه چې لازمه ده روښانه او واضیح نه دي. یاد واحد ته چې کله قرباني شوي ښځې مراجعه کوې، هغوي ته توصیه کیږي، تر څو وضعیت درک کړي، او یا هم د منځګړیتوب له طریقی څخه د ستونځو د حل او فصل لپاره کار اخیستل کیږي، چې دا کار د ښځو د خاوندانو/مړونو د کورنیوو لخوا په تضمین سره تر سره کیږي، چې پکې د قرباني شویوو ښځو لپاره د خطر امکان شتون لري.

٣. د کابل مرکزي دفتر حقوقی اداره یو بل مرکز دی چې د اړتیا په صورت کې په هغه کې د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي قضیې د حقوقي غوښتنې پر بنسټ او د قانون د تطبیق له لاري حل او فصل شي، که څه هم، ولیدل شو چې اکثره قضیې د منځګړیتوب نارسمي طریقی له لاري حل او فصل شویدي، چې دا کار د لازمو تحقیقاتو د نه تر سره کولو پایله ده، ځکه په دی برخه هیڅ داسی کوم تضمین شتون نه لري چې دا ډول تاو تریخوالي دی بیا تکرار نه شی، په ډیري وختونو کې دا منځګړیتوب د هغو ښځو سره چې د دویم ځل لپاره د خپلو کورنیو سره یو ځای کیږي،د تاو تریخوالي د خطرونو سره مل وی.

٤. د کورنیو چارو وزارت/د کورنیو د غبرګون په واحدونو کې ولیدل شول چې اکثره قضیې په نارسمي توګه د یو قوې تضمین نه شتون سره حل کیږي. د هغهي تر شاه دلیل دادي چې د پولیسو ډیري افسران کافی پوهه نه لري، او دا پولیس په هغه مسلکی کچه کې نه دي چې د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي له مینځه وړلو اړونده مهمو مادو او د هغوي د تطبیق پوهه دی ولري.

۵. په عمومی توګه، د څارنې په بهیر کې، ولیدل شول دا چې څرنګه د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي له مینځه وړلو قانون څخه کار واخیستل شوی او له دی قانون څخه د قرباني شویوو ښځو سره د مرستي په موخه ګټه پورته شي، له دی قانون څخه د پوهاوې په برخه کې یوه ستره تشه شتون لري.

## هغه بررسی شوی قضیې چې د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي له مینځه وړولو قانون له پلی کیدا څخه د څارنې کمیسیون ته رارسیدلي دي

د دی ربعی په اوږدو کې، یو شمیر قضیې د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي له مینځه وړلوقانون له پلي کیدا څخه د څارنې کمیسیون ته رارسیدلي دي. یادي قضیې د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي له مینځه وړلو قانون نه پلي کیدو نمونه ده، او یا هم د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي له مینځه وړلو په هکله د روزنیز پروګرام نه آغیزمنتیا ده چې د افغان ښځو شبکي لخوا د یو شمیر هغو آړونده بنسټونو او ادارو کارکوونکو ته چې د ښځو پر وړاندې تاوتریخوالي په له مینځه وړلو کې سر او کار لري، په لاره اچول شوی وو.

### لمړنی قضیه:

بی بی ګل د تاو تریخوالی هغه قرباني میرمن ده چې د خپل ژوندانه هره شیبه د شدید تاوتریخوالي لاندې تیروې. یاده میرمن د هلمند ولایت څخه ده، او په همدې ولایت کې ژوند کوې. د بی بی ګل قضیه د افغانستان بشری حقونو د خپلواک کمیسیون لخوا راجع شویده. د بی بی ګل قضیه په بدو کې د ورکړئ یوه قضیه ده، نوموړی یې پلار په ۱۴ کلنی کې یو ۴۵ کلن شخص ته چې نوم یې آمان الله وو واده کړه، او په بدل کې یې د آمان الله لور چې ۲ کلنه وه خپل ځوې ته واخیسته. کله چې د امان الله دوه کلنه لور د بلوغ عمر ته رسیږي، د بی بی ګل کورنی د امان الله کورنی ته مراجعه کوې، تر څو د خپلو اولادونو د کوژدنی مراسم تر سره کړي. لکه څرنګه چې امان الله نومې د خپلي لمړنې ښځې د کاکا له زوې څخه د خپلي لور د ورکړئ په بدل کې ۴۰۰ زره افغانی تر لاسه کړي وی، نو خپله لور یې دی ته مجبوره کړه چې د لعل بی بی له ورور سره د قوم د مشرانو په مخ کې انکار وکړي، چې په دی ترڅ کې خو تنه قرباني کیږي. دا هغه قضیه ده چې یوه ۱۴ کلنه نجلی پکې د یو ۴۵ کلن شخص سره واده ته آړ کیږي او یوه ۱ کلنه نجلی یو ۱۸ کلن هلک ته کوژدن کیږي.

له واده وروسته بی بی ګل د سړکونو پر سره سوالګری ته مجبوره کیږي، ځکه چې د خاوند/میړه او میړه لمړنی ښځه یې دی په زور او وهلو ټکولو سره دی کار ته آړباسي. له واده کولو څخه د امان الله د لور انکار او د بی بی ګل پر وړاندې د شدید تاو تریخوالی وروسته، بی بی ګل د خپلو والدینو کور ته چې په هلمند کې وو، ولاړه. خاوند/ میړه یې پر یادي میرمنې او د هغی په کورنۍ عریضه وکړه، او هغوي یې په دی تورن کړل چې نه یوازې ښځه یې ورته یرغمل کړیده، بلکې تر څنګ ۲۰۰ زده پاکستانی کلداري یې هم له ځانه له کوره پټي کړیدي. دمګړی بی بی ګل او کورنې یې د آمن په کور (شلتر) کې ژوند کوې، دا په داسی حال کې ده چې د بی بی ګل پلار د پولیسو په توقیف کې خپل ژوند تیروې.

د مدافع وکیل له نیولو وروسته ثابته شوه چې بی بی ګل چا یرغمل کړی نه ده، بلکې په خپله خوښه د پلارګنی کورته تللې وه. همدا راز ثابته شوه چې ۲۰۰ زره پاکستانی کلداري د بی بی ګل پلارګنی پوري تړاو لري چې غوښتل یې په دغو پیسو د خپل زوی او د بی بی ګل د میری مور لور د واده مراسم پرې تر سره کړي. د بی بی ګل د میری مور له لور څخه هم وغوښتل شول چې محکمی ته حاضره شي، او دا اظهار کړی چې څرنګه یې پلار د بی بی ګل د ورو سره له واده کولو پر شاه کړله او یا انکار ته یې مجبوره کړه.

د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالی قانون څخه د پوهاوې پر بنسټ، د بی بی ګل ورور مجازات شو، پلار یې له توقیفه آزاد شو، او د میری مور لور او ورور واده یې تر سره شو. د دی قضیې د حل او فصل کولو یو دلیل هغه څارنیزه قضیه وه چې د افغان ښځو شبکی آړونده د ښځو پر وړاندې د تاو تریخوالي له مینځه وړولو قانون له پلی کیدا څخه د څارنی کمیسیون پواسطه د یاد قانون د پلي کیدا یا تطبیق د وضعیت د معلومولو پخاطر د آړونده بنسټونو/ادارو لخوا، تر سره شوه.